مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری ۲۰۲۰/۱۰/۰۱

# د شپې پېښې

شپه له نیمایي ښه تیره وه چي « ټک!...ټک!...ټک!» د سرای ور وټکول شو.دې کار ښځه نيغه په ځای کي راکښېنوله .وارخطا یې خنګ ته پروت سړی وښانده :
- پاڅه...هله پاڅه چي ور ټکيږي.
سړی خوبولی له ځان سره وګونید ، په بل اړخ شو .خو ښځي لا په زوره پسي وښانده :
- ویم ژرشه چي ورټکيږي.
او ژړغوني یې پرې ورزياته کړه:
- وئ خدايه ، برباد شوم .
دې خبري یې سړی هم جست په ځای کي راکښېناوه.ټکان خوړلي یې له خولي ووتل :
- « ور؟! »ټکيږي ؟... څوک ؟
ښځي هماغسي ژړغوني ور جوخته کړه :
- بل به نو څوک وي؟...مېړه مي دی.
او بیا خدای ته په زاربو شوه: « وئ خدايه توبه...وه خدايه کوربان دي شم...وئ خدايه ته مي وزله وکه...»
په دې ترڅ کي ور بیا وټکول شو .ښځي لا وارخطا سړي ته کړه :
- هله کالي واغونده چي تباه شوو...وئ وئ وه خدايه اوس به څه کوم...ولاچي سر خو مي راپرې کي .
او پړنګ په ژړا شوه .د سړي په هډو هم ساړه ننوتل .په رېږديدونکو لاسونو يې خوا کي پراته کمیس - پرتوګ راواخیستل، په داسي حال کي چي په بېړه یې هغه اغوستل ، وچ حلق یې وویل :
- تا خو ویل چي سبا ماښام راځي ؟
ښځي چي اوس نوري جامي اغوستي وي، ژر ژر د سر وېښته سره سم کړل،د ټیکري له پر سر کولو سره یې سرګردانه ورغبرګه کړه :
- ماته خو یې دغسي ویلي وو ،خو اوس...اوس ته نوري خبري پرېږده هسي په ما پسي راځه.
او پاڅېده . سړی هم پاڅېد . دغسي نا آرامه په ښځي پسي د کوټي وره ته ورغی.هلته يې غوښتل چي خنګ ته پراته بوټونه په پښوکړي ،خو ښځي پرې وربرچ وهل :
- نه نه دغسي یې په لاس کي درسره راواخله .
او په ګرندیو ګامونو له کوټي ووته .
سړي هم چوپه خوله بوټونه راواخیستل،لوڅي پښې په ښځي پسي رهي شو .چي سرای ته راووتل ، حیران ښځي ته وپسنېده :
- او اوس ؟
ښځي هم په پسنهاري ورغبرګه کړه :
- ښه غوږونیسه چي څه درته وایم...زه اوس وره ته ورځم ، ته هلته...هاغه دوره شاته په کونج کي پټ شه. چي ور مي خلاص کړ ، او دواړه کاله ته ننوتو ، ته هم غلی له کاله ووزه ښه؟.... پام چي ډېر کرپ و کروپ ونه کي پوه شوې ؟
دا وخت ور یو ځل بیا او لړ په زوره وټکول شو .ښځي پاس اسمان ته وکتل،وې ویل :
- وه خدايه ته مي په لوري شي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

او بی له دې چې دورپسې روان سړي ځواب ته ماتله شي ، وره ته ورغله . هلته يې ورو وويل :
ـ څوک يې ؟
له هغې خوا د يوه نارينه برزن ږغ اوچت شو :
ـ زه يم...دروازه خلاصه که .
ښځي د خپل مېړه ږغ وپېژانده ، وې ويل :
ـ دغه دی دستي .
خو د وره له خلاصولو مخکي يې په هاغه بل سړي پسي وروکتل چې په ورښودلي ګوټ کي پټ ؤ .سړی له دی ځايه نه مالومېده .ښځي لاړي تېري کړې وی ويل :
« خير خدايه » او ور يې پرانيست .د وره شاته يې جګ چارشانه مېړه ولاړ ؤ . سړی په قار مالومېده . سرای ته له ورننوتو سره يې واردواره وويل :
ـ دا دروازه ولي نه خلاصه يې ؟
ښځي په عذرناکه لهجه ورجوخته کړه :
ـ ويده وم...زه څه خبره وم چې په دې نيمه شپه کي راځې . زاره دي راوچوده .
مېړه يې په اعتراض خبر تکرار کړه :
ـ « ويده وم ! »...هه.. داسي خوب ؟
او په غټو ګامونو يې دکوټولار په مخ کي واچوله .ښځه هم پسي رهي شوه .څو ګامه وروسته يې ترشا ورپسي وويل :
ـ خير خو ؤ ؟...تا ويلي سبا ماښام راځې ؟
مېړه يې ورلنډه کړه :
ـ کارونه وختي خلاص شول .
او د خوب کوټي ته ننووت .دې هم نورڅه ونه ويل، دغسي چورتي او ځوړند سر کوټي ته پسي ننوته .

********

دلته په سرای کي پټ سړی څو شيبې نور هم ماتل شو .چې کوټو ته دهغوي له ننوتو ښه داډه شو ، غلی له خپل پټنځايه راووت . د ګوتو په سر د سرای وره ته ورغی ، ورو يې خلاص کړ ، دغسي بوټونه په لاس ، بې ږغ و ږوغه له کاله ووت . ور يې هماغسي په احتياط په ځان پسي پوري کړ. په داسي حال کي چې بوټونه يې په پښو کول شاوخوا يې له نظره تير کړل. لنډه تنګه کوڅه تشه توره وه .سړي بوټونه په پښوکړل، پاڅېد او لکه له کومي بلا چې تښتي ، په بيړه له کوڅي په وتوشو . له کوڅي دباندي عمومي سړک ته په وروتو يې ايله په آرامه ساه وکښه. هرڅه په خير تېر شوي وو.خوشاله يې ځانته وويل : « خدای پاک پزل (فضل) راباندي وکه.بس بلا وه برکت يې نه ؤ .» او هماغسي په ګړنديو ګامونو ښي لاس ته د خپل کاله پر لور وخوځېد . سړک هم د کوڅي غوندي له خلکو تش ؤ.مازي هر څو ګامه وړاندي څراغونو يې د کوڅي غوندي په تياره کي نه و ډوب کړی .سړي غاړه تازه کړه .حلق يې اوس هم وچ ؤ. ورو يې ژبه پرشونډو راتېره کړه اودغسي په تلوتلو کي تيرو يادونو ته لاړ...

څه باندي يوکال کېده چې له ښځي سره يې «تار» اچولی ؤ.هغه ورځ يې دغه نن غوندي په ياد وه.ماسپښين قضا مهال د خپلي کباړی په دوکان کي ناست ؤ خلق يې يو څه تنګ غوندي ؤ . دغه ورځ يې د کار و بارچندان مزه نه وه . دغسي لټ يې شاوخواځوړندو جامو ته کتل چې ښځه په دوکان راننوته . ښځي ده ته لنډ سلام واچاوه ، مخامخ د ښځينه جامو برخي ته ورغله .ده هم د سلام ځواب ورکړ ، پاڅېد، ورووړو دښځينه جامو برخي ته پسي ورغی .چې ورورسيد ، غلی يو دوه ګامه ترې رالري په يو ګوټ کي ودرېد . ښځي بوغره(چادري) له مخي بېرته کړی وه .بيغمه يې له جامو په زيچ ډک دوکان کي دخپلي خوښي جامي لټولي. چې ده ته يې ورپام شو ، شرمندوکي يې وموسل ،بيرته د جامو په سره اړولو را اړولو لګيا شوه ،خو مخ يې ترې پټ نه کړ.ده لنډه شيبه وروسته په ادب وپوښتل :
ـ په څه شي پسي ګرځې خوري ؟...څه کومک درسره کولای شم؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ښځې مهربانه وموسل ورغبرګه یې کړه :
- نه وروره ، خیر یوسې...په څه خاص شي پسې نه ګرځم .
اوخپله لټه یې همداسې جاري وساتله . ده هم نورڅه ونه ویل ، هماغسې پرخپل ځای ولاړیې ښځه له نظره تیره کړه: ښائستوکې وه . نه ډېره چاغه نه ډېره ډنګره . قد یې هم په اندازه و، نه ډیره لوړه نه ډیره ټیټه ؛ په غنم رنګه ګردي مخ کې یې غوښن غومبوري له حده یو څه ډیرسینګارکړي وو. که یې تندی لږ ووړ اوتیره زنه لږ لنډه نه وای ضرور به ترديې لا ښه ایسیدای،خوغټو توروسترګو یې داکمی بیرته پوره کاوه؛ او ډکو سروکړو شونډو خو یې بیا خپل خاص اثر لاره ؛ په تیره بیا دې شرمندوکي په څنګ ورکتلو اوحیا ناکه نرم موسبدلو یې، په خوله کې یومخ لاړي وروچولې.

ښځې ښائسته ډیري جامې سره لاندې باندې کړې . چې کومه جامه به ښه ورته وایسیده،له کوټ بنده به یې راخلاصه کړه ، مخامخ قدنمایه هینداري ته به ورسره لاړه، هلته به یې هغه پر خپلوجامو سربیره په دواړو لاسو له ټټره رالاندې پرځان وځروله، لومړی به یې مخامخ په هینداره کې ځان پکې وکوت ، بیا به هماغسې هینداري ته ور کتونکې یو وار چپ بیا ښې اړخ ته ورسره تاوراتاو شوه ،چې ښه به یې خوځله دا کار تکرارکړ، بیا به یې څوک بیرته پر خپل ځای وځړول ، او څوک وڅوک به یې دغسې په لاس کې ورسره واخیستل .

سړي، چې اوس بیرته خپل پخواني ځای ته راغلی ؤ، له همدې ځایه هم هماغسې په پام ښځه څارله .هم له دې امله چې هسې نه کوم شی ترې غلاکړي اوهم له دې امله چې.له خپل دې کاره یې یوډول خوند اخیست . په تیره بیا چې دا تمه هم ورکې پخیده چې ښځه ښایي ډیره سودا ترې وکړي . خو ښځې په پای کې مازي یوه ژیره ګلداره لمن خوښه کړې وه . چې ده یې بیه ورته ویلې وه ، ښځې په تعجب وروځې کش کړي وې ویلي یې و چې په دې بیه خو یې نه اخلي ، چې ده دهغې بیه ترې پوښتلې وه ، هغې هم داسې بیه ورته ویلې وه چې ده په هیڅ ډول زړه نه شو ورته ښه کولای . په دې ډول د دوي ترمنځ چنې پیل شوي وې ؛او په همدې چنو چنو کې ښځې ښائسته ډیر ځلې سترګي ورسره جنګولي وې . هم یې ټوکې ورسره کړي وې ، هم یې یو ډول نازونه پرې کړي وو. ده هم د ښځې دې کارته مانجه ورکړې وه. ټوکي یې په ټوکوورځواب کړي وې، خواږه کاته په خوږو کتو ؛ او چې د ښځې چلند نورهم زړه ور کړی و، موسکي شونډي یې په مانادراه لهجه ورته ویلي وو :
- ښه نو چې زه دا لمن درکم ، ته به ماته څه شی راکې ؟
ښځې په مکیز خندلي وو ورغبرګه کړې یې وه :
- زه ؟ ... زه به دې هم ښه ونازوم .
چې ده پوښتلي وو :
- په څه شي ؟
ښځې په هماغه انداز ورجوخته کړې وه :
- په یوه ښه غوړه شوروا .
ده حیران تکرار کړې وه :
- شوروا ؟
- هو ... یوه ښه خوندوره شوروا به دربانډي وخورم ، څنګه ؟...
- څه وخت ؟
- نن ماښام .
- «نن ! ؟» ماښام ؟
- هو...ولې؟
- هیڅ...مازي مې ویل... چیري ؟
- چیري؟.. څنګه چیري ...زموږ کره .
او چې دده په تعجب له خولې وتلي وو :
- ستاسې کره !؟ نوستا کورنۍ او میره ؟
ښځې په کټکي خندلي وو ، داوینه یې ورکړې وه :
- بیغمه راځه ، په کور کې یوازې یم ...میره مې لري په سفر تللی .
له دې سره یې سړي ته خپله پته ورکړې وه اوله ژیرې ګلداري لمنې سره یې له دوکانه
وتلې وه . دی هم هماغه ماښام د ښځې کورته ورغلی و ، اوهلته نو بیا خبر ، یوازی د شوروا په خوړلو نه وه تمامه شوی

له دغې ورځې راوروسته دا مامله همداسې روانه وه . هروخت چې به د ښځې میره د خپلې و ظیفې له امله کومې خواته په سفر لاړ، ښځه به دوکان ته ورغله شپې ته به یې دی کاله ته وروغوښت. ده به هم ډک لاس او له خوښیه په مالامال زړه شپه د دې کور ته وررسوله...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

دلته په کورکي يې ميرمن په اول سر کي لا يو څه غلې وه؛ خو چي دا د ده په اصطلاح د«انډيوالانوبنډار» ته يې د ده هر وخت و ناوخته تګ وليد ، هغه هم ورو ورو ورته په سونګيدو شوې وه .کله به يې ويل چي دشپې يوازي په کاله کي ډاريږي ؛ کله به يې ويل دا څومره بنډارونه دي چي نه خلاصيږي... کله يو څه کله بل څه . بس په يو نه يو ډول يې خپل ټونګ وررساوه . خو دی هم څه داسي خام مرغه نه ؤ !. هر ډول چي وو ښځه يې بالآخره قانع کړې وه چي له خپلواعتراضونولاس واخلي . ښځي هم دوخت په تيريدو ورو وروپرخوله لاس ايښی و . په دې وروستيوکي خو يې سُڼ قدر هم نه و وهلی ؛ اودا همداسي ښه وه ؛ خو نن ؟...نن نيرډې په بده بلا اووښتی و. نن يې نيرډې هرڅه وران شوي وو . دې فکر يې همدااوس هم هډونه ور وريږدول. نا آرامه يې پزه وسغوله، له ځان سره يې وويل« هسي مي خدای پرده وکړه ....کنی...» اوپه همدې چورتونو کي ډوب خپلي کوڅې ته وررننووت .

په کوڅه کي چوپه چوپتيا وه . له لري يې ددوي د سرای ديواله خواکي ولاړي وني ته وروکتل . دشپې په دې تياره اوچوپتياکي ډاروونکې مالومېده . سړي غاړه تازه کړه ، پرمځکه د خراشکي له توکولو وروسته مخامخ پرکوروررهي شو .چي ورورسيد ،ورو يې د سرای وروجړباوه . ور ترلی و . سړی بيرته راپه شا شو . ځوړندسريې پر مځکه په کومي ډبري پسي وکتل چي ور ورباندي وټکوي .خو لايې ډبره نه وه ميندلې ،چي بيرته له خپل فکره واووښت . غلی پر خپل ځای ودريد ، د ديواله خوا کي ولاړي وني ته يې پاس وروکتل، له ځان سره يې وويل «...ښه به دا وي چي پر همدې وني سرای ته ور واوړم...په دې نيمه شپه کي د وره ټکول ؟ نه...بتره به مي ګاونډي راويښ کړي وي.»

او همداسي يې هم وکړل . وني ته ورغی، يوه کلکه څانګه يې ټينګه ونيوله او «هن !» د پيشو غوندي سيخ وني ته وروخوت . هلته يې له هغه ځايه شاوخوا له نظره تيرکړل . اوس هم هر لور کراري وه .چي زړه يې له دې امله ډاډه شو، په احتياط لومړی د سرای ديوال ؛ او بيا له هغه ځايه سرای ته ور کوز شو. خپل سرای ته له ورکوزيدوسره يې آرامه اوږده ساه وکښه ؛ ورو يې جامې او لاسونه ټک وهل ، هماغسي په احتياط د دوي د کوټو پر لور وخوځيد، خو لا د خوب کوټې ته نه و رسيدلی چي له دنني يې د خپلي ښځي ږغ واوريد . دې کار حيران کړ . په تعجب يې ځان ته وويل :«تراوسه لا ويښه ده ؟...په دې نيمه شپه کي؟.» لا په همدې چورت کي و چي نابره يې د يوه نارينه ږغ ورسره ترغوږشو. دې کار يودم د قارلمبه ورپورې کړه . په داسي تاو يې وينو سر اومخ ته ور«پښ !» وهل چي ده ويل اوس به يې سر او د مخ پوټکی وچوي . څو شيبې دغسي وچ کرخت پر خپل ځای ميخ پاتي و .هيڅ يې پر خپلو غوږونو باور نه راته. د ده ښځه ؟...له يوبل نارينه سره؟... د خوب په کوټه کي؟... خو نه، ګومان يې نه و غلط ؛ دغه اوس يې په کټکي د دواړو خندا لاپسې واوريده. زياتي نودی هم دغضب غونډاری و. له قاره يومخ پرکيدونکی په بيړه دناستي کوټې ته لاړ ، له هغې خوا تومانچه په لاس بيرته راووت ، هماغسي قارجن د خوب کوټې ته ورغی ، په تاو د وره له خلاصولو سره يې چيغه کړه :

- لونډه بازي !!

او څو يې ښځي ځان خوځاوه « ټک!...ټک!...ټک !» د تومانچې ډزو يې کرخته په ځای کي وغځوله . بيا يې دهغی ځنګ ته پروت سړی په نښه کړ،غوښتل يې دجاغور پاتی ګولۍ پرده ورتشي کړي ، خوسړي وارترې دمخه کړ؛ ورټوپ يې کړل ، داسي په تاو يې دی پرخيټه په سرووااهه چي «درب!» شا په تخته يې وغورځاوه. له دې سره يې تومانچه له لاسه ايسته ولويده . سړيې هم داسي په کړس په ديوال ولګيد چي لنډه شيبه يې ټوله دنيا سترګو ته تپه تياره شوه . چي څو ده ځان بيرته سره راسماوه ، سړي ژر خپلي جامې ورسره واخيستې،لوڅې پښې يې سرای ته منډې کړې.ده هم تومانچه په لاس پسي منډي کړې . چي سرای ته راووت ، سړی ان دوره خولې ته رسيدلی ؤ . ده له همدې ځايه پری ورچيغه کړه :

- ودريږه ، دخنزير بچيه !

او «ټک!» د تومانچې ډز يې پسې وکړ . خو دا وخت سړی د وخته لا کوڅې ته ور وتلی و. دی هم کوڅې ته ورووت. خو هلته يې له تپې تيارې پرته بل شی ونه ليدل. دا وخت يې ګاونډي هم کوڅې ته راوتلي وو. په داسي حال کي چي هک حيران ترې راتاو وو، په ګډه يې وپوښتل :

- څه پيښه ده ؟ ...غله وو که څه بلا ، ډزي مو واوريدې .

ده لکه له ځان سره چي ږغيږي ، په چورتونو کي ډوب وويل :

- نه. غله نه وه .

خو مخکي له دې چي ګاونډي يې څه ووايي ، خپله يې قارجن پرې ورزياته کړه :

- ګير مي کړه ، لونډه بازه...له لونډه سره.

اودغسې منګ پکرله هيښ پيښ ورته پاتي ګاونډيو سره کاله ته ننووت . د خوب کوټې ته چي ورغلل ،دهغوی خولې هم له حيرته وازي پاتي شوې . د ده ترډيره حده لوڅه ښځه په وينو کي لژنده مخامخ ورته پرته وه . يو ګاونډ وروړاندي شو ، ژر يې برستن پر ښځي ورواچوله ، بيا يې له ده څخه وپوښتل :

- چيري دی ، سړی؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ـ وتښتيده ، د خنزير بچی.
ګاونډ بيا وپوښتل :
ـ ودي نه پيژانده چي څوک ؤ ؟
ده د سر په ښندېلو ورته «نه» کړه ، په ګوټ کي پرتو بوټونو ته يي لاس ونيو :
ـ دا يي بوټونه دي .
ټولو په ځير بوټونو ته وروکتل، خو هيچا څه و نه ويل . لکه هيچا چي يي خاوند نه وي پيژندلی . څو شيبي ټول ښځي ته دغسي بد بد ورکتونکي چپ پاتي شول . هيچاسُڼ هم نه واهه . آخر د ښي لاس ګاونډ وروړاندي شو، لاس يي دده پر اوږه کښيښود، په داسي حال کي چي نرمه يي اوږه ور کښيکښودله ، له ستاينې په ډکه لهجه يي ورته وويل :
ـ شابس دنر بچيه... په دي توره دي هم مسلماني وګټله هم افغانيت .
ده لنډ ورته وموسل څه يي و نه ويل. خو په ذهن کي يي اوس هم د نن شپې پيښي
سترګو ته دېخوا ايخوا کيدې .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ